# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشبنه د ۱۳۹۷ د مرغومې دویمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۳مه | دویم کال| ۳۰٤مه گڼه


## له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتل؛

# امریکا دې د یوه میکانېزم پر اساس له افغانستانه ووځي



۳

### امریکايي ځواکونه باید ووځي، خو څه ډول؟

۲ مخ

### سرنوشت نامعلوم شوراهای ولایتی و ولسوالی و ساختار معیوب مشرانو جرگه و وضعیت مجهول لویه جرگه!

۳ مخ

## معترض نوماندان: د کندهار د ولسي جرگې د ټاکنو لومړۍ پایلې راته د منلو نه دي

کندهار کې معترض نوماندان وايي، د دغه ولایت د ولسي جرگې د ټاکنو لومړۍ پایلې ورته د منلو نه دي او د شکایاتو کمېسیون وروستۍ پرېکړې ته انتظار باسي.

دغه معترض نوماندان چې له خپلو لسگونو پلویانو سره کندهار پرېس کلب ته راغلي وو، په خبري غونډه کې یې دغه څرگندونې وکړې.

دغو نوماندانو ادعا کوله چې د ټاکنو ولایتي او مرکزي کمېسیون په لوی لاس له کندهاره ولسي جرگې ته د خلکو رښتیني نوماندان ناکام کړي او په مقابل کې یې په درغلیو د څو تنو رایې ډېرې کړي او هغوی یې بریالي اعلان کړي دي.

د سید جمال اغا په نوم یوه نوماند وویل، د کندهار په ټاکنو کې پراخې درغلۍ شوې او پر همدې بنسټ د دغه ولایت د ولسي جرگې د ټاکنو د لومړیو پایلو اعلان د منلو نه دی.

هغه زیاته کړه، په دې اړه یې کافي اسناد او شواهد راټول کړي او د شکایاتو کمېسیون ته یې د څېړلو لپاره سپارلي دي.

نوموړي وویل: «زه اسناد لرم، په ۲۴۰ محلونو کې زما ټولې رایې ۴۱۰۴ دي، خو د ټاکنو کمېسیون زما ټولې رایې ۳۴۸ اعلان کړې دي».

د ټاکنو خپلواک کمېسیون تېره اونۍ د کندهار د ولسي جرگې د ټاکنو لومړۍ پایلې اعلان کړې.

## له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتل به نړیوال امنیت وگواښي



۲ مخ

پوهنتون


۴ مخ

## د وردگو د لوړو زده کړو موسسه

د دې موسسې رییس وايي، د موسسې لپاره د لومړني پوهنځي ودانۍ، احاطه، کتابتون، جومات، ژورې څاگانې او د ونو اېښودل ټول د ولس په مرسته ترسره شوي دي.



## په پروان کې د ۵۷ میلیونو ډالرو په ارزښت ٦۰ پراختیايي پروژې پلې شوې



د پروان ولایت د اقتصاد ریاست چارواکي وايي، سږ کال په دغه ولایت کې ۸۷ پراختیایي پروژې پلان شوې وې چې له ډلې ٦۰ یې تر اوسه پلې شوې دي.

د دغه ولایت د اقتصاد رییس مسیح هاروني ازادي راډیو ته وویل چې دغه پروژې د اوو بېلابېلو سکتورونو له خوا په خدماتي او ساختماني برخو کې د ۵۷ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت پلې شوې دي.

د پروان ولایت د اقتصاد ریاست په خبره، دغه پروژې د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې پلې شوې چې په پلې کېدو سره د خلکو ستونزې کمې شوې او په اقتصاد کې یې د پام وړ مثبت بدلون راغلی.

د نوموړي په خبره، تمه ده چې د کال تر اخره پورې به پاتې نورې پروژې هم پلې او گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## قرارداد خریداری سامان آلات طبی با بانک انکشافی آلمان امضا شد



قرارداد خریداری سامان آلات طبی به ارزش ۱،٦ میلیون دالر، میان وزارت صحت عامه و بانک انکشافی آلمان به امضا رسید.

داکتر فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه کشور، دیروز قرارداد یادشده برای شفاخانهٔ ۳٦۰ بستر بوعلی سینای بلخی ولایت بلخ را با آقای همایون علمی نماینده بانک انکشافی آلمان امضا کرد. وزیر صحت عامهٔ کشور، از کمک کشور آلمان مبنی بر تجهیز نمودن شفاخانه ۳٦۰ بستر بوعلی سینای بلخی، ابراز تشکر نموده و گفت که کشور آلمان، یکی از کمک کننده‌گان بزرگ برای وزارت صحت‌عامه می باشد.

وی افزود که این کشور همواره در بخش‌های گوناگون از جمله ساخت تعمیرها، زیر ساخت‌ها، تجهیز وسایل و سامان آلات طبی پیشرفته و با کیفیت، ارتقای ظرفیت کارمندان در مرکز و ولایت‌ها، وزارت صحت عامه را کمک نموده است.

موصوف گفت: «سامان آلات و تجهیزات طبی که امروز(دیروز) ما قرارداد آن را با بانک انکشافی آلمان به امضا می‌رسانیم، به ارزش یک میلیون و شش‌صد هزار دالر است که هزینهٔ آن از سوی کشور آلمان پرداخت می گردد».

در همین حال، انجنیر محمدخان معاون اول ریاست اجرایه، در این نشست سخنرانی کرده و گفت که کشور آلمان همیشه در عرصه‌های گوناگون افغانستان را کمک و همکاری نموده، که می توان از ان جمله سکتور صحت، زراعت و معارف را نام برد.

وی افزود: «ما به نماینده‌گی از مردم افغانستان، از کمک‌های این کشور اظهار امتنان و قدردانی می‌کنیم و خواهان هم‌کاری‌های بیشتر این کشور در عرصه‌های گوناگون استیم».




## دریـــځ

### امریکايي ځواکونه باید ووځي، خو څه ډول؟

د امریکايي ولسمشر ډونالډ ټرمپ هغه تصمیم خلک حیران کړي چې غواړي له افغانستان څخه خپل نیمايي ځواکونه وباسي. ویل کېږي چې دفاع وزارت ته دنده سپارل شوې چې په دې اړه غور وکړي. که څه هم معلومه نه ده چې دا کار به څه وخت پیلېږي، خو په امریکا او افغانستان دواړو کې په دې تړاو اندېښنې شته.

په امریکا کې ځینې کسان فکر کوي چې په دې سره به امریکايي گټې له گواښ سره مخ شي. په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو د حضور مخالفین او موافقین دواړه اندېښمن دي. موافقین چې له امریکايي ځواکونو سره یې گټې تړلې او یا فکر کوي چې په دې سره به یې واک او ځواک ختم شي، د دغه کار له امله خواشیني دي. د امریکايي ځواکونو د حضور مخالفین بیا له دې امله اندېښمن دي چې دا کار ناڅاپي او خطرناک دی او امریکايي ځواکونه باید په مسوولانه ډول له افغانستان څخه ووځي.

هر افغان چې رښتیا افغاني فکر او ارزښتونه ولري، په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو د حضور مخالف دی او غواړي چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. د افغانستان د ستونزې یو بنسټیز لامل بهرني ځواکونه دي چې د دوی په وتلو سره به له شک پرته یو لامل کم شي. وېره دا ده چې د امریکايي ځواکونو دغه وتل په قصدي ډول د دې لپاره نه وي چې په افغانستان کې حالات خراب شي او بیا به یې امریکا مسوولیت هم نه اخلي. ځینې کسان فکر کوي چې امریکا په افغانستان کې د لا زیاتې گډوډۍ، جگړو، وژنو او وحشت پلان لري. د دې لپاره چې دوی په افغانستان کې ځواکونه لري، نو که داسې څه پېښېږي، پړه به یې د امریکا پر غاړه وي. اوس امریکا غواړي له دې پړې د خلاصون لپاره له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي. د دې شونتیا هم شته چې دوی په قصدي ډول د قدرت خلا رامنځته کړي او افغانستان بیا کورنۍ جگړې ته ټېل وهي.

دغو ټولو اندېښنو ته په پام سره امریکايي ځواکونه باید د یو منظم میکانېزم له مخې له افغانستان څخه ووځي. ښه ده چې د امریکايي ځواکونو وتل د سولې د یو پراخ توافق برخه وي. په دغه توافق کې باید وسله وال مخالفین، سیمه ییز هېوادونه او افغان حکومت شامل وي. په کور دننه باید افغانان جوړجاړی وکړي، راتلونکی حکومت باید تضمین کړي چې افغان خاوره د بل چا پر ضد نه کارول کېږي او سیمه ییز هېوادونه باید ژمنه وکړي او تضمین ورکړي چې نور د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او دلته جگړې ته لمن نه وهي. له دغسې یو پراخ توافق وروسته باید بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. له دې پرته ځنگه چې د بهرنیو ځواکونو حضور په افغانستان کې د پراخې ناامنۍ سبب شوی و، وتل به یې هم افغانستان یوې بلې کندې ته ټېل وهي. له همدې امله په دې چاره کې هوښیاري پکار ده. افغان حکومت، سیاسي مخالفین او وسله وال مخالفین باید ټول له افغان ولس سره په گډه پر یوه توافق کار وکړي، څو افغانستان یو ځل بیا کورنۍ جگړې ته ټېل نه وهل شي.

# د امریکايي پوځیانو وتل او د افغان سولې نوي فرصتونه

لیکنه: نظرمحمد مطمئن

له افغانستان څخه د امریکا نیمايي پوځیانو وتلو او پایله کې د امریکا د ټولو پوځیانو د وتلو تمه، یوازې د طالب لپاره نه، بلکې د ټول افغان ولس او حتی هغوی ته هم چې تیر ۱۷ کلونه له امریکایانو سره ملگري وو، د ویاړ ځای دی. تر ویاړ پورته دا هغه غوټه وه چې په تېرو ۱۷ کلونو کې یې د پرانیستو رښتیني هڅې نه وې شوې؛ ځکه د سولې بهیر کې هم د پام وړ پرمختگ نه دی لیدل شوی.

ښه ده چې طالب د افغان ولس له ادرسه له امریکا او نړیوالو سره خبرې وکړي، نه یوازې د طالب له ادرسه؛ د دوی راتلونکی له داسې برخلیک سره مخ کولای شي، لکه د ځینو نورو گوندونو کړنې او جوړښتونه. مهمه دا ده چې له یوه ادرسه د افغانانو په استازیتوب خبرې وشي چې نن طالب په دغه موقف کې دی.

ډاکټر خلیلزاد له یوه کورني ټلویزیون سره مرکه کې ویلي چې د طالبانو سرې کرښې د بهرنیو پوځیانو وتل او د امریکا سرې کرښې له افغانستان څخه بیا ځل نه تهدید دی. طالبانو په ډېر روښانه ډول ویلي او وایي چې گاونډیو، امریکا او د نړۍ نورو هیوادونو ته به له افغانستان څخه کوم تهدید او خطر متوجه نه وي.

امریکا چې لا هم فکر کوي، طالبان به نرمښت وښيي او یا دا چې ځینو هېوادونو امریکایانو ته ورته ژمنې ورکړې، که د طالبانو په هره کچه او هره مرکچې ډله له امریکايي هیئت سره مخ کېږي، بیا به هم د طالبانو غوښتنه د بهرنیو ځواکونو وتل وي او دا د مذاکراتو د پرمختگ لپاره عقلاني او رښتیني غوښتنه هم ده.

که امریکا په سیمه کې د خپلو پوځیانو شتون غواړي، دا په دې معنی ده چې امریکا په سیمه کې ناامني غواړي. پرته له شکه، د امریکايي پوځیانو د شتون له امله په افغانستان کې نور د امریکا د گټو مخالف هېوادونه لاسوهنې کوي او ناامنې به جریان پیدا کوي. دغه تحلیل اوس ډېره حقیقي بڼه غوره کړې. کله چې په افغانستان کې د امریکا د پوځي شتون په تړاو د سیمې د هېوادونو اندېښنې وینو، گومان نه کېږي چې د اوږدمهاله پوځي شتون په صورت کې به دوی خاموشه پاتې شي.

که امریکا او ملاتړي هېوادونه یې بیا ځل د مري – اسلام اباد تر خبرو وروسته؛ پر ناکامه تجربه باندې فکر کوي چې په ترخ کې یې د طالبانو مخکینی مشر منصور صاحب قرباني شو، نه یوازې د سولې خبرې به ټکنۍ شي، بلکې د مسکو فورمټ محور لرۍ به لا زیاته قوي او طالبان به لا زیات جگړې ته مجبوره کېږي.

افغان دولت، امریکا او طالبانو ته پکار ده چې د سولې هڅې کوونکو ناپیبلو افغانانو سره لا زیاتې مشورې وکړي، هغوی ته تهدید او د هڅو مخه نیول یې هېڅ لوري ته گټه نه لري.

د دې لپاره چې د سولې مذاکراتو کې پر امریکا / ناټو فشار شتون ولري، پکار ده چې د مسکو فورمټ غونډو لړۍ دوام وکړي، قوي شي، همدارنگه د سولې مذاکراتو محوري کېدل او له پاشلو هڅو یې مخنیوی وشي. مسکو فورمټ هغه د فشار ټکی دی چې ښايي امریکایان مذاکراتو کې ډېر نرمښت ته اړباسي.

که خلیلزاد غواړي چې د سولې هڅې یې منفي ونه ارزول شي، ښه ده چې د افغان – امریکايي پوهنتون بندي استادانو پر تبادله باندې له طالبانو سره توافق ته ورسېږي.

امریکا او ورسره ملگري هېوادونه (د افغان حکومت په شمول) فکر کوي چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې د ملکي خلکو وژنې او پر کورونو بمبارد پر طالبانو فشار دی، ولې نتیجه یې کاملاً سرچپه ده. په سیمو کې د امریکا د یاد جنایت له امله لا زیات ځوانان له طالبانو سره ملگري کېږي.

پاکستان پر افغانستان د امریکا د برید له امله هم له امریکا / ناټو څخه ډېر امتیازات واخیستل، اوس غواړي چې د افغان سولې برخه کې له امریکا / ناټو، طالبانو، افغان حکومت او د سیمې له هېوادونو څخه امتیازات واخلي، جدي غور پکار دی چې څه ډول د پاکستان د ډېر امتیاز مخه د ښکېلو هېوادونو او ډلو لخوا ونیول شي.

طالبانو له افغان حکومت سره د مخامخ ناستې اړوند شرایط وړاندې کړل چې افغان حکومت دې له امریکا سره د امنیتي تړون لغوه کېدو اعلان او له هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړي.

دا چې امریکایان له افغانستان څخه د وتلو پر لارو فکر کوي او کله چې امریکا د وتلو تیاری نیسي، امنیتي تړون هم بیا کوم ارزښت نه لري. که افغان حکومت یې په اړه غور وکړي، سولې ته د رسېدو لاره لنډېږي.

دا خبره واضح کول پکار دي چې طالبانو د افغان حکومت له مهمو چارواکو سره د ښه نیت لیدنې ځینې وختونه شوې، خو د پرمختگ پر ځای لا زیات خنډونه پیدا شوي او له لیدنو څخه منفي گټه پورته شوې او لا زیاتې پر طالبانو د فشار هڅې شوې.

په کور دننه د سیاسي گوندونو د یووالي هڅې روانې دي چې د طالبانو په وړاندې گډ دریځ ولري، که د مثبت فکر لپاره دا کار وشي؛ ښه ده او که له طالبانو سره د مقابلې او خپلو شخصي گټو په موخه وي، نو افغان ولس هر وخت د دوی د گټو قرباني شوی.

د امریکا د ولسمشر ټرمپ پرېکړه چې له افغانستان څخه به د دوی نیمايي پوځیان په دوو میاشتو کې وباسي، د دفاع وزیر متېس د استعفا یو له نورو لاملونو گڼل کېږي. همدارنگه ټرمپ د دې مهې پرېکړې اړوند له ناټو هېوادونو او اروپايي ټولنې سره هم سلا او مشوره ونه کړه چې کېدای شي د ناټو غړي هېوادونه هم ماېیجن او د ورته یوې پرېکړې لپاره فکر وکړي.


ځینې اندېښنې شته چې د قطر هېواد اړیکې به له طالبانو سره په اماراتو کې د وروستۍ غونډې له امله کمرنگه شي، ولې طالبانو د خپل ښه ملگریتوب ازموینه د خپل نظام او په تېرو ۱۷ کلونو کې ورکړې. فکر کوم چې د غونډې اړوند د قطر هېواد رضایت به اخیستل شوی هم وي.

مور سوله د جگړې د ختم او هر افغان ته د سولې او امن لپاره غواړو، طالبانو ته پکار ده، که امریکايي پوځیان له افغانستان څخه وځي، خپلو سیاسي او نظامي رقیبانو ته څه ډول د گډوډۍ او له غچ اخیستنې څخه د مخنیوي ډاډ ورکولای شي او بیا ځل وسلوالې ډلې د خپلو شرایطو پر بنا د مجبوریت له امله جگړې کولو ته مخه نه کړي.

پکار ده چې افغانستان د نړیوالو لخوا بیا ځل هېر نه شي او که امریکا پلان لري چې له افغانانو خپل غچ واخلي، نو کورنۍ جگړې ته به لمن ووهي چې د مخنیوي لپاره یې تر ټولو ستر مسوولیت طالبانو، افغان سیاستوالو او په ټوله کې افغان ولس ته راجع کېږي.

په دې حساس وخت کې د طالب هره خرگندونه او کړنه باید په حساب وي، د دوی څرگندونو ته په کور دننه او بهر ټول متوجه دي، باید په خپلو څرگندونو کې سولې ته د رسېدو او ولسونو ته ډاډگیرنه ولري.

## لیندسي گراهام: له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتل به نړیوال امنیت وگواښي



امریکايي سناتور او د جمهوري غوښتونکي گوند مخکښ غړي له افغانستانه د امریکايي سرتېرو په اړه د ټرمپ وروستۍ پرېکړه د امریکا د ملي گټو پر زیان بللې او په دې اړه یې له سنا جرگې څخه د بېړنۍ ناستې غوښتنه کړې ده.

گراهام د امریکا د دفاع له مستعفا وزیر جېمز متېس سره یو ځای یوې خبري غونډې ته په خبرو کې وویل، د ټرمپ اداره باید د خپلې وروستۍ پرېکړې په اړه وضاحت ورکړي. نوموړي زیاته کړه، له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتل د سپټمبر د یوولسمې د تکرار په مانا ده او په خبره یې که امریکايي ځواکونه له افغانستانه ووځي، دغه هېواد به یو ځل بیا د نړیوالو ترهگرو په امن ځای بدل او له دې ځایه به د امریکا گټې وگواښي.

هغه وویل، ټرمپ فکر نه کوي چې داعش په افغانستان کې ماتې خوړلې، خو د ده په خبره داعش په افغانستان کې ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دی او مالومه ده چې هغوی پر امریکا د برید پلان لري. یاد مخکښ سناتور زیاته کړه، له افغانستانه د امریکايي سرتېرو وتل به تېرې اتلس کلنې هغه لاسته راوړنې هم له خاورو سره خاورې کړي، کومې چې د امریکایانو د وینو په بدل کې لاسته راغلې دي.

دا په داسې حال کې ده چې ځینو امریکايي رسنیو خبر ور کړی چې د ټرمپ اداره غواړي له افغانستانه اووه زره پوځیان وباسي.

له افغانستان څخه د امریکايي سرتېرو د ایستل کېدو له اعلان سره هممهاله، موثقو سرچینو سیمې ته د بلک واټر د مشر اېریک پرېنس د پټ سفر خبر هم ورکړی دی. پرېنس تېره اونۍ په متحده عربي اماراتو کې له ځینو مهمو افغان او امریکايي سیاستوالو سره هم لیدلي دي. د سرچینو د معلوماتو له مخې، ټاکل شوې ده چې پرېنس افغانستان، پاکستان، هندوستان او ازبکستان ته هم سفرونه وکړي. د بلک واټر امنیتي کمپنۍ مشر اریک پرېنس د ټرمپ خاص سلاکار دی او ټرمپ یې دې ته هڅولی، څو امریکايي عسکر یو مخ له افغانستانه وباسي او افغان جگړه د ده کمپنۍ بلک واټر ته په اجاره ورکړي.

## ولسي جرگه: د سولې روانې هڅې باید منسجمې او له یوه ادرسه وشي

د ولسي جرگې ځینې غړي که څه هم په متحده عربي اماراتو کې له افغان پلاوي سره د طالب استازو نه کتل خواشینوونکي بولي، خو وایي چې د سولې خبرې اترې باید منسجمې او له یوه ادرسه وشي.

د دې جرگې مشر عبدالروف ابراهیمي د شنبې ورځې په عمومي غونډه کې پر افغان حکومت غږ وکړ چې د سولې پروسه حساسې مرحلې ته رسېدلې او باید ښه گټه ترې واخلي.

نوموړي وویل: «سوله ملي پروسه ده او له حکومته غواړو چې له گوندونو او ملت سره په تفاهم، د افغانستان د وروستیو اتلس کلنو لاسته راوړنو د خوندیتوب لپاره واحد دریځ ولري چې د افغانستان د سولې لپاره ترې ښه گټه واخیستل شي او وکولای شو چې د یوې سراسري سولې شاهدان اوسو».

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد د طالبانو له استازو سره تېره دوشنبې او سې شنبې د متحده عربي اماراتو په پلازمېنه ابوظبۍ کې په داسې حال کې خبرې وکړې چې د پاکستان، متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان استازي هم حاضر وو، خو طالب استازو د افغان حکومت د سولې له مرکچي پلاوي سره له کتنې ډډه وکړه.

د ولسي جرگې غړی حاجي سخي مشوانی وایي: «کوم پلاوی چې د افغانستان له لوري ابوظبۍ ته تللی و او



وسله والو طالبانو ورسره نه دي کتلي، دا په ټوله نړۍ کې قانون دی او د دوو لورو ترمنځ مسئلې په اړه درېیمگړي ته ورتلل او ورسره کېناستل دا مناسب نه دي، دا تېروتنه وه چې طالبانو وکړه.»

له دې ټولو سره سره، جمهوري ریاست ټینگار کوي چې افغان حکومت به د سولې هڅو ته دوام ورکړي، خو په ورته وخت کې به د هېواد وسله وال ځواکونه هم د تل په شان د خلکو او هېواد دفاع ته چمتو وي.

ټاکل شوې چې د وسله والو طالبانو د استازو او زلمي خلیلزاد ترمنځ د خبرو بل پړاو په را روانه جنورۍ میاشت کې په سعودي عربستان کې ترسره شي.

خو د سولې عالي شورا ځینې سرچینې وایي، دا احتمال شته چې په دې خبرو کې د افغان حکومت یو پلاوی هم گډون وکړي.

# سرنوشت نامعلوم شوراهای ولایتی و ولسوالی و ساختار معیوب مشرانو جرگه و وضعیت مجهول لویه جرگه!

سرور دانش، معاون دوم ریاست جمهوری

بر اساس ماده چهارم قانون اساسی، حاکمیت ملی در افغانستان به ملت تعلق دارد که به طور مستقیم یا توسط نمایندگان خود آن را اعمال می‌کند. اعمال این نوع حاکمیت باعث شده که اکثر نهادهای حاکم در نظام سیاسی افغانستان، به طور مستقیم از طرف مردم انتخاب شوند. رئیس جمهور، اعضای ولسی جرگه، اعضای شوراهای ولایتی و ولسوالی و قریه و همچنین شاروال و اعضای مجالس شاروالی از طریق انتخابات آزاد، عمومی، سری و مستقیم برگزیده می شوند. دو سوم اعضای مشرانو جرگه نیز از طریق شوراهای منتخب ولایتی و ولسوالی ها تعیین می شوند. لویه جرگه افغانستان هم که بر اساس ماده ۱۱۰ قانون اساسی، عالی‌ترین مظهر اراده مردم افغانستان می‌باشد که متشکل است از: اعضای شورای ملی و رؤسای شوراهای ولایات و ولسوالی‌ها.
این که در قانون اساسی چرا این همه شورا و این همه انتخابات در نظر گرفته شده، بحث دیگری است، ولی فعلاً ما مکلف به تطبیق قانون اساسی هستیم و در این میان تکمیل ساختارهای اصلی حاکمیت و تأسیس نهادهایی که حاکمیت ملی را تمثیل می کنند، از مهم‌ترین مکلفیت های ما است. زیرا اگر ساختارهای حاکمیت ملی تکمیل نباشد، هم مشروعیت و هم کارایی دولت زیر سوال است. از طرف دیگر ساختار این نهادها در قانون اساسی به گونه ای است که اگر یکی از آنها ناقص و یا غیر فعال باشد، نهادهای دیگر نیز یا اصلاً شکل نمی گیرد و یا نمی تواند صلاحیت های خود را به طور کامل اعمال کند. به عنوان مثال اکنون که ۱۵ سال از تصویب قانون اساسی سپری می‌شود، هنوز ساختار لویه جرگه افغانستان شکل نگرفته است. زیرا اعضای آن کامل نیست. همچنین مشرانو جرگه ما معیوب است، چون یک سوم اعضای آن که باید از طریق شوراهای ولسوالی ها انتخاب شوند، در طول این سال ها وجود نداشته اند. یک سوم دیگر آنکه از طریق شوراهای ولایتی انتخاب می شوند، اکثر اوقات بیش از دوره قانونی خود فعالیت کرده اند. همچنین هنوز هم شوراهای قریه ها و شاروال و مجالس شاروالی منتخب نداشته ایم.
در دوره حکومت قبلی با این که از هر جهت زمینه برگزاری این انتخابات ها کاملاً فراهم بود، به دلایل واهی انتخابات شوراهای ولسوالی ها و قریه ها و شاروالی ها برگزار نگردید. در دوره حکومت وحدت ملی هم هنوز این مشکل حل نشده است. از مدتی پیش که بحث انتخابات ولسی جرگه و انتخابات ریاست جمهوری مطرح شد، بین حکومت و کمیسیون مستقل انتخابات، فیصله شد که انتخابات شوراهای ولایتی با انتخابات ریاست جمهوری در سال ۹۸ و انتخابات شوراهای ولسوالی ها همزمان با انتخابات ولسی جرگه در میزان ۹۷ برگزار گردد، ولی در آخرین روزها، کمیسیون انتخابات به دلایلی که معلوم نیست تا چه حد موجه بود، از برگزاری انتخابات شوراهای ولسوالی ها صرف‌نظر کرد و تنها انتخابات ولسی جرگه را در تاریخ ۲۸ و ۲۹ میزان گذشته برگزار کرد که هنوز هم با تأسف بعد از دو ماه از نتایج آن خبری نیست. البته در همان زمان قرار شد که انتخابات شوراهای ولسوالی ها با انتخابات ریاست جمهوری برگزار شود و اکنون که تقویم انتخابات ریاست جمهوری اعلام گردیده، باز هم نه از انتخابات شورای ولسوالی ها خبری است و نه از انتخابات شوراهای ولایتی، با این که مدت کار قانونی شوراهای ولایتی از هم اکنون پایان یافته و مدت قانونی یک سوم مشرانو جرگه هم به همین دلیل ختم شده و ادامه کار آن مشروعیت مشرانو جرگه را هم با سوال مواجه می سازد.
باید اضافه کنم که ما از جانب حکومت به کمیسیون به صورت بسیار واضح اعلام کرده بودیم که تقویم انتخابات، باید به گونه ای تنظیم شود که بعد از سال ها اکنون ساختارهای دولت تکمیل گردد و از همین رو از کمیسیون خواسته بودیم که هر چهار انتخابات ریاست جمهوری، شوراهای ولایتی، شوراهای ولسوالی و انتخابات به تعویق افتاده ولسی جرگه غزنی، باید به طور همزمان برگزار شوند و حکومت هر نوع کمک و امکانات لازم را در اختیار کمیسیون قرار خواهد داد. برای این تصمیم دلایل ذیل وجود دارد:
۱- حکم قانون اساسی تطبیق شده و ساختار حاکمیت ملی تکمیل می‌شود و تعهدات حکومت برای مردم مبنی بر فعال شدن شوراهای محلی و تکمیل شدن ترکیب لویه جرگه عملی می گردد.
۲- از نگاه امنیتی هم مشکلات کمتری را خواهیم داشت و از قربانی های فراوان نیروهای امنیتی ما در انتخابات های متعدد جلوگیری می شود.
۳- از نگاه بودجوی، هزینه های مالی انتخابات کمتر خواهد شد.
۴- با همزمان برگزار شدن هرچهار انتخابات، مشارکت مردم بالا خواهد رفت و نهادهای منتخب از مشروعیت بیشتری برخوردار خواهند شد.
۵- برای رأی دهندگان هم بسیار آسان خواهد بود که یک بار در رأی دهی شرکت کنند، به جای این که هر سال و یا به فاصله چند ماه در چندین انتخابات اشتراک نمایند.
البته تصامیم کمیسیون مستقل انتخابات و استقلال آن برای همه ما قابل احترام است و برخی از مشکلات تخنیکی ناشی از پایین بودن ظرفیت ها در کمیسیون هم قابل درک است، ولی این استقلال بدین معنی نیست که احکام قانون اساسی رعایت نشود و دولت و کمیسیون، مسؤلیت ها و تعهدات قانونی خود را نادیده بگیرند. کمیسیون مؤظف است که اصلاحات لازم را در ساختار خود عملی سازد و ظرفیت های خود را بالا ببرد، نه این که به خاطر ناتوانی خود از حکم قانون سر باز زند و با این کار خود حکومت را در مقابل مردم و نهادهای سیاسی و مدنی زیر سوال قرار دهد، در حالی که حکومت به طور واضح وظایف خود را انجام داده و به کمیسیون به طور رسمی و به تکرار آمادگی کامل خود را برای هر نوع همکاری با کمیسیون اعلام کرده است.
بر اساس آنچه گفته شد، اکنون کمیسیون مستقل انتخابات باید به این سوال ها جواب بگوید که تکلیف شوراهای ولایتی و شوراهای ولسوالی چه می شود؟ و مشروعیت ترکیب مشرانو جرگه را چگونه می توان تأمین کرد؟ و وضعیت همیشه نامعلوم لویه جرگه چه خواهد شد؟

## له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل؛
# امریکا دې د یوه میکانېزم پر اساس له افغانستانه ووځي



له افغانستان او سوریې نه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو د متحده ایالتونو د ولسمشر ناڅاپي اعلان په کور دننه او بهر د دې پرېکړې د عواقبو په اړه اندېښنې پیدا کړې دي.
د ولسي جرگې غړي وایي، له کوم خاص میکانېزم پرته له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل ترهگرو ډلو په ځانگړې ډول داعش او نورو جنایتکارو ډلو ته د دې فرصت برابروي چې افغانستان د خپلو فعالیتونو مرکز وگرځوي.
وکیلان وایي، له یوې خوا په امریکا د داعش ډلې د رامنځته کېدو تورونه دي او له بلې خوا دغه ډله په سوریه کې له محدودېدو وروسته په دې هڅه کې ده چې افغانستان او د منځنۍ اسیا هېوادونو ته ځان ورسوي.
د دې جرگې غړي کمال ناصر اصولي وویل: «امریکایان نه زموږ په غوښتنه راغلي وو او نه زموږ په خوښه وځي. په خپله راغلي او په خپله به ځي، اما موږ امریکایانو ته وایو چې تر څو چې افغان ملت ته قوي ضمانت ورنه کړی، تاسو افغان ملت تروریستانو ته په دغه شکل مه پرېږدئ چې موږ یو ځل بیا کورنیو جگړو ته لاړ شو او یا هم پاکستان د مختلفو ډلو په واسطه په موږ خپل تسلط په اثبات ورسوي.»
بلخوا وکیلان وایي، دلته د امریکا په اووه لس کلن پوځي حضور کې ځینې جنایتکارې، غیر مسوولې وسله والې ډلې چې په خپله بهرنیانو روزلې دي، فعالې دي چې د امریکایي ځواکونو د وتلو په صورت کې هره شبېه ستونزې ایجادولی شي.
شنونکي وایي، امریکا باید افغانانو ته تضمین ورکړي چې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو له ایستلو وروسته به داعش ببرته نه راپورته کېږي او د افغانستان جگړه به شخصي کمپنیو او په افغانستان کې جنایکارو او غیر مسوولو وسله والو ډلو ته نه سپارل کېږي.
له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو دغه ناڅاپي پرېکړه داسې مهال ده چې وسله والو طالبانو د افغان سولې په برخه کې د امریکا له ځانگړې استازي سره په خبرو کې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو جدي ټینگار کړی دی.
بلخوا د طالبانو ځینو سرچینو لوېدیځو رسنیو ته ویلي، د امریکا متحد ایالتونه له افغانستانه خپل ځواکونه له دوی سره د شپږ میاشتني اوربند د هوکړې په بدل کې وباسي.
دغو سرچینو ویلي، په دې اړه په متحده عرب اماراتو کې د امریکا او طالبانو په وروستۍ لیدنه کې هوکړه شوې ده .
دوی دا ادعا هم کړې چې گڼې متحد ایالتونه به د دې هوکړې له مخې په افغانستان کې په دریو پوځي اډو کې پاتې شي.
«دي ټایمز» په نوم ورځپاڼې په یوه لیکنه کې ویلي، امریکا هڅه کوي چې د افغانستان له را روانو ولسمشریزو ټاکنو وړاندې د سولې تړون لاسلیک شي.
دا ورځپاڼه زیاتوي چې طالبانو د ابوظبۍ په خبرو کې یو ځل بیا دا غوښتنه مطرح کړې چې د ملي یووالي حکومت باید خپل ځای یوې موقتې ادارې ته پرېږدي.

# اردوغان: له سوریې د امریکایي پوځیانو تر وتلو وروسته به په دغه هېواد کې داعش او کرد وسله وال وځپو



وروسته له هغې چې د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ له سوریې د خپلو سرتېرو ویستل اعلان کړل، د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ژمنه وکړه چې په سوریه کې به داعش او کرد وسله وال وځپي.
اردوغان ویلي، هېواد یې ښایي په سوریه کې د کردانو د وای پي جي وسله والې ډلې پر ضد چې ترکیه یې تروریستي سازمان گڼي، پوځي عملیات وکړي .
نوموړي له سوریې د شاوخوا ۲ زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو په اړه د امریکا د ولسمشر د پرېکړې هرکلی وکړ، خو ټینگار یې وکړ چې دی په دې اړه پخوانیو منفي تجربو ته په پام محتاطانه دریځ لري.
د ترکیې د ولسمشر اشاره د کردانو له وای پي جي وسله والو څخه د امریکا پوځي ملاتړ ته ده چې ترکیه وایي، له مکررو غوښتنو سره سره یې لا هم دا ملاتړختم شوی نه دی.
بل لور ته د سوریې کرد وسله والو خبرداری ورکړی دی چې پر دوی به د ترکیې د پوځ برید په سوریه کې د داعش ډلې پر ضد د کردانو روانه مبارزه ودروي.
د سوریې د کردانو یو لوړ رتبه سیاسي مشر الهام احمد پر فرانسې غږ وکړ چې له سوریې څخه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته په دغه هېواد کې لوی رول ولوبوي.
نوموړي خبرداری ورکړ چې که ترکي ځواکونو پر کرد وسله والو برید وکړ، نو دوی به ونه شي کولای چې د داعش هغه سلگونه زندانیان وساتي چې په جگړه کې یې نیولي دي.
د کردانو وای پي جي وسله والې ډلې چې امریکایي ځواکونو یې ملاتړ کاوه، د سوریې په شمال کې د داعش پر وړاندې جگړه کې لاسته راوړنې لرلې دي .
دا په داسې حال کې ده چې د امریکایي رسنیو د راپوروتو له مخې ټرمپ غواړي له سوریې ټول او له افغانستانه خپل نیمایي پوځیان وباسي.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډیوډ شوارتز
ژباړن: میراحمد یاد

**لومړی څپرکی**
**پر خپل بري باور ولرئ:**




سبا په پوره ډاډ مرکې ته لاړم او دا باور مې په لومړي ځل احساس کړ. له دې مخکې مې هيله دا وه چې سل زړونه يو کړم او د کار لپاره له اوسني (۷۵۰) يا (۱۰۰۰) ډالره لوړ معاش وغواړم. خو په هغه ورځ چې د ځان په ارزښت پوه شوم، خپل وړانديز مې (۳۵۰۰)ډالرو ته لوړ کړ او پکې بريالی هم شوم. لامل به يې ښايي دا و چې تېره شپه مې ځان لوستی و، ځان کې نښوتی وم او داسې ځيزونه مې په ځان کې موندلي وو چې پر ځان يې زما باور سل چنده لوړ کړی و.

له کار موندلو دوه کاله وروسته، بيا زه داسې انسان گڼل کېدم چې سودا مې ښه په اسانه جوړولای شوه. يوه موده شرکت خپله پاليسي محدوده کړې وه، دې وخت کې زما کار ښه شو، ځکه زه په دې برخه کې ښه کمېشن کار وم. څه موده وروسته چې د شرکت په مديريت کې بدلون راغی، زما معاش هم ورسره لوړ شو او راته وويل، چې ځينې اجناس د خپل کار د امتياز په توگه ځانته اخيستی شې.)

**نو پر ځان باور ولرئ چې ښې پېښې درسره وشي!**

ستاسې ذهن (د فکر فابريکه) ده او هره ورځ زرگونه افکار توليدوي.

دا فابريکه دوه کسان اداره کوي، يو يې (بريالی) نومېږي او بل (ناکام). بريالی په مثبت ذهني توليد بوخت دی او د توليد دليل يې هم ستاسې وړتيا، بريا او قوت دی. بل ښاغلی (ناکام) نومېږي، ناکام لگيا دی ټوله ورځ منفي او تحقير امېزه توليدات کوي. دی ستاسو د کمزوريو او تنگيو پر دلايلو کار کوي او مسلکي شعار يې دا دی چې: (ماتې خورئ!).

دا دواړه (بريالی او ناکام) ښاغلي ډېر منونکي دي، خپل کار ته په وخت راځي او په وړه اشاره کار او حرکت پيلوي. که اشاره مثبته وي، بريالی رامخکې کېږي او کار پيلوي او که اشاره منفي وي، نو ناکام صيب سمدستي فعالېږي.

که غواړئ پوه شئ چې دا دواړه څنگه کار کوي، نو دا تمرين وکړئ: ځان سره ووايئ چې: (نن خو ډېره سترې ورځ ده.) تاسې چې څنگه دا خبره وکړه، په همدې يوې اشارې درته (ناکام صيب) له سلو دلايلو او شواهدو سره رامخته کېږي او درته وايي: هوا توده ده، بازارونه ساړه دي، سودا نه کېږي، خلک غوسه دي، کېدای شي د خولې خوند مو بد شي ... همدا ناکام صيب مو په څو ثانيو کې پښې سستوي او درته ثابتوي چې (نن سترې ورځ ده.) تاسې چې تر څو ځان برابروئ، دستي مو ذهنيت داسې جوړېږي چې (نن خو رښتيا هم ډېره بده ورځ ده.)

بيا ځان سره ووايئ چې: (نن خو ډېره ښه ورځ ده!) دې سره بريالی صيب سمدستي په اشاره پوهېږي او خپل کار پيلوي، دستي درته وايي: (نن خو د کار ورځ ده! هوا ښايسته ده، ژوند نعمت دی، نن څو پاتې کارونه ختمولای شې!) په دې ورځ به د بريالي صيب په خبرو ستاسې ټوله ورځ ښايسته او خوندوره وي.

که ناکام صيب درته وايي چې په دې دلايلو تاسې دا کار نه شئ کولای؛ نو بريالی صيب درته وايي چې په دې دلايلو يې کولای شئ او د کار کولو لارې چارې هم درښيي. ناکام صيب تاسې پر خپله ماتې قانع کوي او درته وايي چې خپله ماتې ومنئ، خو بريالی بيا اپوټه تاسې ته د بريا لپاره دلايل او لارې چارې درښيي. ناکام صيب درته د سترگو په رپ کې وايي چې فلانی ښه کس نه دی، خو بريالی صيب درته ډېر دلايل وړاندې کوي چې هغه کس ولې ښه دی.

که تاسې دې دواړو کې هر يوه ته ډېر کار سپارئ، هماغه قوي کوئ. که ناکام صيب ته ډېر کار وسپارئ، نو هغه له ځان سره پرسونل هم زياتوي او ستاسې د ذهن ډېره برخه نيسي. بلاخره ستاسې د فکر پر ټول توليد واکمنېږي او ټولو افکارو ته مو منفي اړخ ورکوي.

ښه طريقه دا ده چې ناکام صيب له کاره وشړئ، ځکه تاسې يې کار ته اړتيا نه لرئ.

څه ضرور چې يو کس درته لکه مچ ټول عمر غوږ کې بنگېږي او وايي چې:

ته يې نشې کولای
ارزښت يې نه لرې
ماتې خورې او نور...

تاسې چې کوم ځای ته ځئ، ناکام صيب درسره هلته په تلو کې مرسته نه کوي، نو له دې صيبه بيخي تېر شئ او خپل مزل پيل کړئ.

بريالي صيب نه ښه کار واخلئ، څنگه مو چې ذهن ته کوم ښه فکر درغی، دستي يې ده ته ورکړئ چې ورسره بوخت شي، دی درښيي چې څنگه بايد بريالي شئ.

شواهد ښيي چې هره برخه کې ورځ تر بلې د نخبه گانو اړتيا زياتېږي او نخبه گان هغه دي، چې له هره اړخه ښې وړتياوې ولري. هغه کسان چې راتلونکي مشران به وي، هغه کسان چې اوس د نبوغ مرحلې ته رسېدلي دي يا به زر ور ورسېږي؛ يو پکې تاسې هم ياست.

**دوام لري...**

# د وردگو د لوړو زده کړو موسسه

◄ حميدالله حميدي



د وردگو ولايت د لوړو زده کړو موسسه د دغه ولايت د علم دوسته خلکو له پرله پسې غوښتنو او هلوځلو وروسته په ۱۳۹۳ لمريز کال کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا منظور شوه، خو د ځينو ستونزو، لکه د ځای، اداري تشکيل او بودجې د نشتون له کبله يې چارې يو څه وځنډېدې، خو له نېکه مرغه په ۱۳۹۴ لمريز کال کې د دغه ولايت اړوند د ټوپ په دښته کې يې چارې رسماً پيل شوې. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې په ۱۳۹۴لمريز کال کې يوازې د کرنې پوهنځي ته ۲۰۰ محصلين جذب شول چې بيا وروسته په تېرو څو کلونو کې لږ تر لږه ۳۵۰ تنه نور محصلين هم د دغه پوهنځي په دوو ډيپارټمنټونو کې جذب شول. د وردگو د لوړو زده کړو موسسې رييس پوهنيار عنايت الرحمن ميار وايي، اوسمهال دغه موسسه نږدې ۵۵۰ محصلين لري.

ميار وايي، کارونه يې ځکه ټکني دي چې دوی هر څه له صفره پيل کړي دي. دی وايي، دا چې د وردگو د لوړو زده کړو موسسه له ښار او بازاره يو څه لرې او په تشه دښته کې ده، نو په لومړي سر کې يې د ودانيو د نشتون له کبله د موسسې د پرمختگ مخه يو څه ډپ شوې وه.

ميار وايي، موږ د دې پر ځای چې د زياتو محصلينو د جذب او يا هم د نورو پوهنځيو د منظورۍ په اړه فکر وکړو، ښه مو دا وبلله چې په لومړي سر کې بايد اداري، تدريسي او نورې اړينې ودانۍ او دغه راز د موسسې احاطه، هلته د اوسېدو امکانات، برېښنا، اوبه او نور هغه څه چې په يوه پوهنتون او موسسه کې ورته اړتيا ليدل کېږي، برابر او وروسته د محصلينو د جذب او نويو پوهنځيو د منظورۍ لپاره گام پورته کړو.

د وردگو د لوړو زده کړو موسسې رييس وايي، پر يوه پوهنتون باندې د نويو جذب شويو محصلينو حقوق دا دي چې اړوند پوهنځی بايد ودانۍ، استادان، کتابتون، لابراتوار او په پوهنتون کې مناسب درسي چاپېريال ولري. دی وايي، څو کاله وړاندې د پوهنتونونو لپاره د نويو پوهنځيو منظوري يوه ساده خبره وه، هر پوهنتون کولی شوای چې د خپلې خوښې پوهنځيو لپاره لوړو زده کړو وزارت ته غوښتنليکونه وسپاري او چارې يې مخ ته يوسي، خو کله به چې پوهنتون ته نوي محصلين جذب شول، د پوهنځي لپاره د ودانۍ، د کتابتون او دغه راز د نورو تدريسي موادو نشتون به هغه ستونزې وې چې محصلين به ورسره لاس او گرېوان وو، خو په دې وروستيو کې د لوړو زده کړو په وزارت کې د يو لړ بدلونونو له کبله اوس د نويو پوهنځيو منظوري يو څه قانوني او ستونزمنه شوې ده. لوړو زده کړو وزارت اوس د نويو پوهنځيو د منظورۍ لپاره ځينې شرطونه اېښي، لکه مخکې له مخکې د پوهنځي لپاره د ودانۍ، رياست، امريت او د نورو هغو امکاناتو چې د يوه پوهنځي لپاره اړين دي، درلودل ضرور بللي.

نومووړی وايي، د يوه پوهنځي لپاره د دغو اړينو توکو برابرول او د نويو پوهنځيو منظوري يو څه وخت ته اړتيا لري.

پوهنيار عنايت الرحمن ميار وايي، دوی سږ کال د ښوونې او روزنې پوهنځي لپاره ودانۍ، کتابتون او مناسب تشکيل برابر کړی او د لوړو زده کړو وزارت له خوا ورته د پوهنځي منظوري هم ورکړل شوې ده او په راتلونکي کال کې به ورته محصلين هم جذب شي. د ده په خبره، په دې سره به د وردگو د لوړو زده کړو موسسه د دوو پوهنځيو درلودونکې شي چې اوسمهال يې د کرنې پوهنځی دوه ډيپارټمنټونه لري او د ښوونې او روزنې پوهنځی به درې ډيپارټمنټونه ولري. د يادولو ده چې د وردگو د لوړو موسسې له کرنې پوهنځي څخه سږ کال د لومړي ځل لپاره ٦٣ تنه محصلين د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شول.

د وردگو د لوړو زده کړو موسسه تر اوسه يوازې د کرنې پوهنځي اړوند ١٦ کادري غړي لري چې د همدغه پوهنځي د تدريس چارې مخ ته وړي. ميار وايي، له بده مرغه تر اوسه په دې موسسه کې هېڅ ښځينه استاده نه لري، خو د ښوونې او روزنې پوهنځي په فعالېدو سره به ښځينه استادانې هم ولري، څو له نارينه استادانو سره اوږه پر اوږه د تدريس چارې مخ ته يوسي.

د دې موسسې رييس وايي، د وردگو د لوړو زده کړو موسسه تر اوسه پورې د ليليې لپاره کومه ودانۍ نه لري، خو په دې برخه کې يو څه پرمختگ شوی. د ليليې ودانۍ د ډيزاين او نورې چارې يې بشپړې شوې او تمه ده چې د ودانيو د جوړېدو چارې به يې ډېر ژر د ښار جوړونې وزارت له خوا پيل شي. دی وايي، هغه محصلين چې په شرايطو برابر وي، د موسسې له خوا ورته ټاکلې بدل اعاشه ورکول کېږي او موسسې ته نږدې په خصوصي ليليو کې اوسېږي.

له پيله تر اوسه پورې د دغې موسسې د ځمکې، احاطې، لومړنيو ودانيو، ونو اېښودلو، کتابتون او نورو برخو کې د سيمې خلکو پراخه ونډه اخيستې ده. د ويلو ده چې د دغې موسسې لپاره د لومړني پوهنځي (کرنې پوهنځی) ودانۍ هم د ولسي خلکو په مرسته او همکارۍ جوړه شوې ده. د وردگو د لوړو زده کړو موسسې رييس وايي، که څه هم د کتابتون لپاره ځانگړې خونه نه لري، خو د خلکو په مرسته يې له لس زره ټوکو ډېر کتابونه راټول کړي دي. دی وايي، دا چې ولسي خلکو له دې موسسې سره د هر ډول کتابونو مرسته کړې ده، نو دوی ترې لس زره پوره علمي کتابونه راټول کړي دي چې دغه لړۍ لا هم روانه ده. دغه راز د نړيوال بانک له خوا د دې موسسې لپاره ۲۵۰۰۰ ټوکو کتابونو د اخيستلو تداركاتي چارې روانې دي او په نږدې راتلونکي کې به د لوړو زده کړو موسسې رياست ته وسپارل شي.

د وردگو د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال د کابل پوهنتون په ځانگړې توگه، د دغه پوهنتون د کرنې له پوهنځي او دغه راز تازه يې د کابل د ښوونې او روزنې له پوهنتون سره د دوه اړخيزې همکارۍ تړون لاسليک کړی دی. ميار وايي، د کرنې له پوهنځي سره يې په مستقيم ډول د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي ملاتړ موجود دی چې په تدريسي برخه کې د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي له کريکولم څخه گټه اخلي. دغه راز يې تازه د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون له رياست سره د دوه اړخيزو اړيکو هوکړه ليک لاسليک کړی دی، څو په راتلونکي کال کې د ښوونې او روزنې پوهنځي له پرانيستل کېدو سره سم ورسره په اړونده برخه کې همکاري وکړي. په دې مانا چې د وردگو د لوړو زده کړو موسسې د کرنې پوهنځی د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي فليال او د ښوونې او روزنې پوهنځی به د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون فليال وي.

دا چې دغه موسسه نوې تاسيس شوې ده، نو په ټولو برخو کې لازم لاس نيوي ته اړتيا لري. اداري ودانۍ، تدريسي ودانۍ، ليليه، کتابتون، لابراتوارونه، طعام خوري، سپورټي ميدانونه، برېښنا، اوبه، شنه ساحه او پراخ تشکيل هغه څه دي چې دغه موسسه اوس ورته جدي اړتيا لري. د دې موسسې رييس وايي، که ولسي مرسته ورسره نه وای، له ۱۳۹۳ لمريز کال بيا تر اوسه به دوی د هېڅ تدريسي ودانۍ، اداري او يا احاطې څښتنان نه وای. دی وايي، د موسسې لپاره د لومړني پوهنځي ودانۍ، احاطه، کتابتون، جومات، ژورې څاگانې، د ونو اېښودل ټول تر اوسه پورې د ولس په مرسته ترسره شوي دي. د ميار په خبرّه، د لوړو زده کړو وزارت بايد د ولس دې مينې او تلوسې ته مثبت ځواب ووايي او د نورو ولايتونو د پوهنتونونو په څېر بايد په هر اړخيزه توگه ورسره مرسته وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۰ |
| € | ۸٦,۱۰ |
| Rp. | ۵۳۹ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۵,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبۍ | 16:15 |
| کابل - جده | 17:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

روغتیا

# لیپوماتیک چیست؛ با روش‌ها، مزایا و عوارض آن آشنا شوید

ترجمه: فایز کریمی

لیپوماتیک (LIPOMATIC) روشی پیشرفته با کمترین عوارض برای تخلیه چربی‌های موضعی بوده و دقیق‌تر از روش لیپوساکشن (LIPOSUCTION) است. لیپوماتیک روشی برای کاهش سایز است و برای کاهش وزن و درمان چاقی راه‌حل محسوب نمی‌شود. استفاده از این روش برای از بین بردن چربی‌هایی با مقدار زیاد در بدن اصلاً توصیه نمی‌شود، اما با این روش، حجم زیادی از چربی‌ها در یک جلسه تخلیه می‌شوند و نیاز به بیهوشی ندارد.

لیپوماتیک عمل جراحی غیرتهاجمی است و اگر به‌خوبی انجام نشود، سبب افتادگی پوست، نامتناسبی اندام‌هایی مثل ران و گودرفتگی غیرطبیعی و درد و خون‌ریزی می‌شود؛ چون در مقایسه با لیزرلیپولیز، از لیزر و حرارت استفاده نمی‌شود، لذا فیبروز (FIBROSIS) در بافت پوست به ندرت مشاهده خواهد شد.

**روش‌های حذف چربی‌های موضعی**

روش‌های حذف چربی‌های موضوعی به‌صورت کلی به دو دسته عمده تقسیم می‌شود:

بخش اول مربوط به مواردی است که بیمار با رژیم غذایی، ورزش و استفاده از دستگاه‌های غیرتهاجمی که نیاز به عمل جراحی ندارد، نسبت به از بین بردن چربی اقدام می‌کند. وکیوم و ماساژ از جمله این روش‌هاست.

بخش دوم مربوط به مواردی است که بیمار با رژیم غذایی و ورزش نتوانسته یا قادر نیست چربی‌های اضافی را از بین ببرد و با تشخیص داکتر متخصص، باید جراحی (لیپوساکشن معمولی، لیپوماتیک و لیزر لیپولیز) شود. عوارض لیزر لیپولیز از لیپوساکشن کمتر است.

جراحی‌های چاقی، دو دسته است:
جراحی چاقی مفرط
جراحی چاقی موضعی

انجام هر یک از این روش‌ها باید به تشخیص داکتر متخصص انجام شود؛ نه داکتر عمومی.

**چگونگی انجام لیپوماتیک**

لیپوماتیک، روشی برای برداشت غیرتهاجمی بافت چربی از بدن است. در این عمل، داکتر معالج از طریق دستگاهی که عکس آن را در زیر می‌بینید، با حرکات لرزشی لوله‌ای به‌نام کانولا، سلول‌های چربی را به‌روش غیرلیزری و حرارتی خارج می‌کند.

ایمنی لیپوماتیک از لیپوساکشن بسیار بیشتر است و عفونت کمتری ایجاد می‌کند؛ چراکه محافظت از اعصاب، رگ‌های خونی و ماهیچه‌ها در روش لیپوماتیک از لیپوساکشن بیشتر است.

هدف روش لیپوماتیک برخلاف روش لیپوساکشن، تغییر سایز، فرم و حجم در نقطه خاصی از بدن است. درحالی‌که در روش لیپوساکشن، هدف اصلی، کم‌کردن وزن است. در این روش، کلیه نواحی بدن که دارای توده چربی است، تراشیده و چربی انباشته برداشته می‌شود (سوزانده نمی‌شود).

ارتعاش در روش لیپوماتیک سبب می‌شود تا چربی‌ها نسوزد و بافت و سلول‌های چربی بدون کمترین آسیب، از زیر پوست بیرون کشیده شود. با این روش، افراد می‌توانند ضمن کاهش سایز شکم و پهلوها، با تزریق چربی به سینه، سایز آن را بزرگ و فرم بهتری به باسن خود بدهند.

**اقدامات پیش و پس از عمل لیپوماتیک**

توصیه می‌شود قبل از انجام این عمل، پزشک حتماً شما را معاینه کند و اگر دچار چاقی مفرط هستید، از انجام این عمل اجتناب کنید. شاخص توده بدنی شما که در ادامه درباره آن توضیح داده می‌شود، باید کنترول شود. اگر سیگار و الکل مصرف می‌کنید، ۱۴ روز پیش از عمل، از مصرف آن خودداری کنید.

متقاضیان عمل لیپوماتیک، باید ۴۸ ساعت پیش از انجام عمل از مصرف آسپرین خودداری کنند، چراکه اسپرین باعث رقیق‌شدن خون می‌شود. فردای روزی که عمل را انجام دادید، از مصرف ویتامین E پرهیز کنید. بهتر است روز عمل، ناشتا باشید. چون در زمان عمل، بخشی از آب بدن نیز تخلیه می‌شود، پس از عمل، باید مایعات کافی بنوشید.

پس از انجام عمل لیپوماتیک، داکتران توصیه می‌کنند که حداقل به‌مدت ۴۸ ساعت از استعمال دخانیات و مشروبات الکلی خودداری شود. اگر پوست‌تان شل شد، حداقل به‌مدت ۷۲ ساعت ننشینید و دراز بکشید. نشستن زیاد سبب چین‌خوردگی در ناحیه شکم می‌شود. حتماً پس از عمل، به‌مدت از گن ۷ روز از گن استفاده کنید. استفاده از گن برای بعضی از بیماران در مدت زمان بیشتری توصیه می‌شود.

**مزایای لیپوماتیک به نسبت لیپوساکشن**

در روش لیپوماتیک، لایه چربی زیر پوست در مقایسه با روش لیپوساکشن یکنواختی بیشتری دارد و شاهد باقی‌مانده چربی‌ای نیستیم که در روش لیپوساکشن به‌صورت گلوله‌ای زیر پوست مانده‌اند.

در مقایسه با روش لیپوساکشن که گاهی لازم بود، بیمار تا ۱۸۰ روز از گن استفاده کند، در این روش، بیمار باید حدود ۲ هفته از گن استفاده کند. گاهی‌اوقات این زمان تا ۴ هفته بسته به سن و شرایط بیمار، افزایش می‌یابد. استفاده از گن به این خاطر توصیه می‌شود تا پوست کاملاً جمع شود.

در مقایسه با روش لیپوساکشن، میزان صدمه‌ای که به ترابکولاهای پوستی وارد می‌شود، در روش لیپوماتیک کمتر است. گاهی در روش لیپوساکشن سنتی، به بی‌حسی موضعی و بیهوشی عمومی نیاز است، اما در روش لیپوماتیک، بی‌حسی موضعی مثل جراحی دندان یا برداشتن زگیل تناسلی با لیزر کفایت می‌کند.

در روش لیپوساکشن، تورم ناشی از عمل و ترشحات از عوارض این عمل است، اما در روش لیپوماتیک، ترشحات پس از ۳٦ ساعت برطرف می‌شود.

ریسک عفونت در لیپوماتیک به نسبت لیپوساکشن بسیار کمتر است.

کوفتگی پس از عمل در روش لیپوماتیک، خیلی کمتر از روش ساکشن است.

**عوارض لیپوماتیک**

لیپوماتیک هم مثل هر عمل دیگر، حتی اگر کمترین ریسک را داشته باشد و بسیار تخصصی انجام شود، دارای عوارضی است که باید از آن مطلع بود. لیپوماتیک حدود ۲۰ سال است که در دنیا رواج دارد. سال‌به‌سال نیز دستگاه‌ها و روش‌هایی که برای چربی‌زدایی استفاده می‌شود، تخصصی می‌شود، اما به هر حال، اساس کار لیپوماتیک، بر اساس (VIBRATION) یا ارتعاشات است که این عمل می‌تواند باعث عوارضی همچون تکان‌های دست به‌مدت زیاد و خستگی داکتر شود. درحالی‌که در لیپوساکشن، ارتعاشی وجود ندارد. در نتیجه، یکی از عوارض و مشکلات لیپوماتیک بحث ارتعاش و طولانی شدن زمان عمل و خستگی داکتر است.

اگر ارتعاشات عمل لیپوماتیک کنترول نشود، می‌تواند ضرباتی به جراح و بیمار وارد کند. از آنجایی‌که، اساس عمل لیپوماتیک، ضربه و ارتعاش است، خطر آمبولی چربی در این روش بیشتر از ساکشن است. اگرچه در این‌باره، دیدگاه‌های متفاوتی مطرح است.

در ادامه این نوشتار به موارد مهمی در مورد این عمل جراحی اشاره شده است:

بهتر است عمل لیپوماتیک در نواحی بزرگ انجام شود. مثلاً این عمل در بخش غبغب به‌سختی انجام می‌گیرد.

در این روش ممکن است کوفتگی بدن افراد مسن بیشتر باشد.

وایبرشن و ساکشن روی یک (PROBE) نصب شده و محل‌های ورود آن بزرگ است، بنابراین جای زخم بیشتر خواهد بود.

برخلاف تصور عموم متقاضیان روش لیپوماتیک، این روش، باعث کلاژن‌سازی پوست نمی‌شود و حرکت سه‌بعدی کانولا هم باعث این تحریک نخواهد شد. بنابراین هیچ مکانیزمی برای تحریک فیبرولاست‌ها وجود ندارد و افتادگی پوست محتمل خواهد بود.

نتایج لیپوماتیک برگشت‌پذیر است. چراکه سلول‌های چربی از بین نرفته و چربی‌ها اصطلاحاً لیز نمی‌شود.

حساسیت به لیدوکائین از جمله عوارض عمل لیپومایک در بعضی از بیمارانی است که به این ماده حساسیت دارند.

اگر از داروهای ضدانعقاد خون مثل وارفارین استفاده می‌کنید، خون‌ریزی و کبودی در ناحیه عمل، اجتناب ناپذیر است. بهتر است ۱۴ روز قبل از عمل، مصرف را قطع کنید.

اگر محل عمل استریل نباشد، احتمال عفونت وجود دارد.

**سخن پایانی**

توجه کنید که انجام عمل لیپوماتیک برای همه افراد امکان‌پذیر است، اما به شرایط هر فرد نیز بستگی دارد. ذکر این نکته نیز ضروری است که به اطلاعات انترنتی و تبلیغات اینستاگرامی بسنده نکنید و در این زمینه با داکتر متخصص مشورت کنید. همچنین انجام هر گونه جراحی لیپوماتیک و لیپوساکشن توسط داکتران عمومی در سراسر کشور ممنوع است.

مطالعه کتاب‌های تخصصی درباره زیبایی، کاهش وزن، سبک زندگی سبز و رژیم درمانی، می‌تواند اطلاعات شما را درباره مزایا و معایب عمل‌های زیبایی و بهبود وضعیت صحی و سلامت فردی بیشتر کند.

# UNODC اداره: په افغانستان کې لا هم پرېمانه ترياک توليدېږي

د ملګرو ملتونو له نشه يي موادو او جرمونو سره د مبارزې ادارې (UNODC) په افغانستان کې د کوکنارو د کښت د کموالي هرکلی کړی، خو ټينګار کوي چې لا هم په دغه هېواد کې پرېمانه ترياک توليدېږي.

د دې ادارې رييس يوري فدوتوف وويل، سره له دې چې په افغانستان کې د کوکنارو کښت کم شوی، خو لا هم په دغه هېواد کې ډېر ترياک توليدېږي.

نوموړي زياته کړه: «که څه هم د کوکنارو کښت کم شوی دی، خو لا هم د ترياکو توليد او استعمال ډېر دی. د دغه وضعيت دوام د خلکو روغتيا له ګواښ سره مخ کړې چې جدي مبارزې ته اړتيا لري. په کابل کې د ملګرو ملتونو له نشه يي موادو او جرمونو سره د مبارزې اداره د سيمه ييزې ستراتېژۍ پر اساس له افغان دولت سره په همغږۍ له نشه يي موادو سره مبارزه کوي.»

UNODC
United Nations Office on Drugs and Crime

دا په داسې حال کې ده چې روان کال له نشه يي موادو سره د مبارزې وزارت او «UNODC» ادارې د ګډې سروې له مخې وويل، په افغانستان کې ٦۴۰۰ مېټريک ټنه ترياک توليد شوي وو چې د تېر کال په پرتله پکې ۲۹ سلنه کموالی راغلی دی.

دغه راز په ملګرو ملتونو کې د امريکا د متحده ايالتونو د سياسي پروګرامونو همغږي کوونکي روډني هنټر د امنيت شورا په غونډه کې له افغان حکومت څخه غوښتنه وکړه چې له نشه يي موادو سره د مبارزې په برخه کې دې خپل پروګرامونه په جدي توګه عملي کړي.

نوموړي زياته کړه: «سره له دې چې په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې د نشه يي موادو په توليد کې کموالی راغلی دی، خو بيا هم په راتلونکو مياشتو او کلونو کې نشه يي مواد يوه ستونزه ده چې مبارزې ته اړتيا لري. موږ بايد پر دې ستونزې تمرکز وکړو، د توليد کچه يې را ټيټه او د کښتونو اړولو ته هم پام وکړو. بايد په افغانستان کې د قانون د تنفيذ ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکړو او تر ټولو مهمه دا ده چې بايد له افغان بزګرانو سره د بديل کښت په برخه کې لازمه مرسته وشي. موږ له افغان حکومت څخه غوښتنه کوو چې له نشه يي موادو سره د مبارزې ملي ستراتېژۍ او د عمل پلان ته لومړيتوب ورکړي.»

سره له دې چې په روان کال کې وچکالۍ د کوکنارو په کښت کې کموالی راوستی، خو شنونکي بيا دا يو طبيعي کموالی بولي چې افغان حکومت او نړيواله ټولنه يې بايد د مخنيوي لپاره اقدام وکړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
ايډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
ليکوالان: محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې دویمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۳مه | دویم کال | ۳۰۴مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | ۱۰ | ۱۵ | ٦ | ۱٦ | ۱۳ |
| -٦ | -٤ | ۰ | -۲ | ۳ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳٦ | لمر ختل ۰٦:۵٤ | ماسپښین ۱۲:۲۰ | مازیگر ۰٤:۰۹ | ماښام ۰۵:٤۵ | ماخوستن ۰۷:۰۰

## ۲۲ نامزد بسته های معلوماتی انتخابات ریاست جمهوری را دریافت کرده اند

کمیسیون مستقل انتخابات می گوید که تاکنون ۲۲ نامزد انتخابات ریاست جمهوری، بسته های معلوماتی شرکت برای انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸ را دریافت کرده اند.

رفیع الله بیدار عضو کمیسیون مستقل انتخابات، دیروز همزمان با آغاز روند ثبت نام نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، به رسانه ها گفت که تاکنون نورالحق علومی، انوارالحق احدی، حکیم تورسن، هدایت الله حفیظ، ایام الدین وطندوست، نور رحمان لیوال، محمد حنیف اتمر، احمد ولی مسعود و شماری دیگر این بسته ها را دریافت کرده اند.

وی گفت که نامزدان احتمالی انتخابات ریاست جمهوری، هر زمان شرایط درج شده در بسته های معلوماتی را داشته باشند، می توانند رسماً ثبت نام نمایند.

داشتن تابعیت افغانستان، مسلمان بودن، تکمیل کردن سن چهل سالگی، داشتن یکصد هزار برچسب از ۲۰ ولایت، محکوم نبودن به جرایم ضد بشری، عدم محرومیت از حقوق مدنی و پرداخت یک میلیون افغانی، از شرایط نامزد شدن برای انتخابات ریاست جمهوری می‌باشد.

بیدار افزود که شماری از تیم های دیگر، بسته های معلوماتی را از طریق انترنت دریافت کرده اند و هر زمانی که بسته ها را تکمیل کنند، جهت ثبت نام خواهند آمد.

### نړۍ



## اردوغان: له سوریې د امریکایي پوځیانو تر وتلو وروسته به په دغه هېواد کې داعش او کرد وسله وال ځپو

۳

From the People of Japan

unitar
United Nations Institute for Training and Research

## برنامه رهبریت، حکومت‌داری و اهداف انکشافی متداوم یونیتار برای خانم های افغان در جاپان به اختتام رسید

دسمبر سال ۲۰۱۸، هیروشیما، جاپان: به منظور توانمند ساختن خانم های افغان که منحیث تغیر دهنده ها در اجتماع ظهور نمایند البته از طریق آموزش رهبری، حکومت‌داری خوب و اهداف انکشافی متداوم (SDGs)، انستیتیوت آموزشی و تحقیقاتی ملل متحد در شهر هیروشیمای جاپان با حمایه و کمک دولت و مردم جاپان یک هفته قبل ورکشاپ آموزشی تحت عنوان رهبری، حکومت‌داری خوب و اهداف انکشافی پایدار را موفقانه به اتمام رسانید. این برنامه که با یک ورکشاپ دو روزه در کابل در ماه اکتوبر آغاز گردیده بود، با اشتراک ۲۰ تن از خانم های جوان و متخصص افغان در ورکشاپ اخیر آن که در شهر های توکیو و هیروشیما از تاریخ ۲۸ نومبر الی ۹ دسمبر برگذار گردیده بود، ختم گردید. اشتراک کننده ها جوانانی بودند که در کابل و دیگر ولایات افغانستان کار نموده. نمایندگی از ادارات مختلف دولتی، جامعه معدنی و سکتور خصوصی اهم از دفتر بانوی اول افغانستان، اطاق های تجارت و صنایع زنان و تلویزیون زن مینمودند. اشتراک کننده های برنامه موضوعات مختلف به ارتباط رهبریت، حساب دهی اجتماعی و انکشاف پلان کاری و عملی را از طریق آموخته ها و ابتکارات قابل محسوس در جاپان و همچنان از کارشناسان و متخصصین بین المللی آموختند. تمام موضوعات برنامه از دیدگاه جندر یا جنسیتی مورد بررسی قرارگرفته به اشتراک کننده ها ارایه گردید، مانند چگونه میتوان یک خانم را منحیث یک رهبر مؤثر شناخت و چگونه نه تنها هدف پنجم (تساوی جنسیتی)، بلکه تمام اهداف انکشافی پایدار توسط جندر متاثر میگردد. به اساس نتایج بدست آمده از ارزیابی ضرورت ها که توسط اشتراک کننده ها بعد از ختم ورکشاپ اول انجام داده شد، آنها توانستند در جریان ورکشاپ جاپان پلان های کاری مؤثر را پیشنهاد نموده و در روز اخیر برنامه ارایه نمایند. پلان های کاری شامل موضوعات چون آموزش خانم های جوان به ارتباط مصاحبه های کاری مؤثر و مهارت نوشتن خلص سوانح به منظور تقلیل عدم اشتغال خانم ها، تهیه خانه – مسئون برای اطفال به هدف اینکه از کار های شاقه در دوران طفلیت منحیث مزدور در امان باشند و غیره موارد را در بر داشت. اکثریت از اشتراک کننده ها خواستار تطبیق پلان های کاری خویش بعد از برگشت به افغانستان بوده اند.

جلالتمآب محترم داکتر بشیر محبت سفیر جمهوری اسلامی افغانستان در جاپان، خانم های اشتراک کننده را در سفارت افغانستان مقیم توکیو دعوت نمودند. همچنان در جریان ختم ورکشاپ محترم داکتر محبت دوباره اشتراک کننده ها را در هیروشیما ملاقات نموده و بعد از ملاحظه و گوش دادن به پلان های کاری شان فرمودند: «قشر جوان آینده کشور ما هستند، اما اگر بخواهیم که صلح و انکشاف واقعی را در افغانستان در آینده نزدیک شاهد باشیم، مهم است تا تمام اعضای جامعه وسایل و فرصت های مساوی را در اختیار داشته باشند تا مساعی و اشتراک مساویانه در این عرصه داشته باشند. بدین ملحوظ جای بسا خوشی و مسرت است که خانم های جوان در برنامه آموزشی رهبری زنان برای افغانستان توسط دفتر یونیتار نه تنها مسائل مختلف را به شکل عملی از این برنامه آموخته اند، بلکه یک گروپ تخصصی و فعال را نیز تشکیل داده اند تا مؤثریت فعالیت های خویش را بهتر و بیشتر سازند.»

این برنامه نه تنها متخصصین مستعد از ادارات مختلف مانند(UNDP، UNITAR، Gender Action Platform) را جهت آموزش اشتراک کننده گان در خود داشت، بلکه شامل چندین ملاقات های آموزشی از ادارات مختلف که فعالیت های شان مختص به موضوعات جندر و یا جنسیتی بود، نیز بود. در شهر توکیو اشتراک کننده ها معلومات های مختلف از نماینده های ادارات چون اداره تساوی جنسیتی کابینه دولت جاپان، اداره کمک های بین المللی جاپان (JICA) و شبکه جامعه معدنی جاپان به ارتباط اهداف انکشافی پایدار را تحت بررسی و تجسس قرار دادند.

در شهر هیروشیما، اشتراک کننده های برنامه از اداره ریفورم انکشاف طریقه های کاری و بخش حمایه زنان دولت محلی هیروشیما و اداره ایسور (Essor) یعنی مرکز زنان هیروشیما برای تساوی جنسیتی دیدن نمودند. دو ملاقات رسمی با وزارت امور خارجه جاپان و دولت محلی هیروشیما نیز شامل برنامه بود که اشتراک کننده ها از آنها مستفید گردیدند. همچنان اشتراک کننده ها از موزیم یاددهانی صلح دیدن نمودند و با خانم کایکو اوگارا یکی از باز مانده های بمب اتومی که در جریان جنگ جهانی دوم در سال ۱۹۴۵ م به هیروشیما استعمال گردیده بود، ملاقات نموده و در باره احیای مجدد جاپان بعد از جنگ و پیام صلح را که هیروشیما به دیگر کشور ها میرساند، تبادل نظر نمودند.

خانم میهوکو کومه موتو، رئیس دفتر یونیتار در هیروشیما فرمودند: «با توجه به سال ۲۰۳۰ م، افغانستان گام های مؤثر را برای بدست آوردن اهداف انکشافی پایدار برداشته است، اما نمیتوان به سادگی فرض نمود که این اهداف بدون اشتراک خانم ها در تمام عرصه ها بدست خواهد آمد. گروپ بیست نفری خانم های علاقمند به آموزش منحیث رهبران با استعداد، با علم و مهارت های عصر نوین مجهز گردیده اند که میتوانند با استفاده از شبکه ایجاد شده قدم های مثبت به طرف انکشاف متداوم، صلح، ترقی و قدرتمند ساختن تمام مردم در افغانستان‌بکوشند.»

این برنامه همچنان با عث ازدیاد مهارت اشتراک کننده ها در قسمت انکشاف و انجام پروژه ها گردید. خانم طاهره فهیمی، مسؤل برنامه در «موسسه برای فردای بهتر» فرمودند: «این برنامه نه تنها برایم ارتباط منطقی بین مراحل مختلف شناسایی ضرورت ها، پیدا نمودن راه های حل و به راه انداختن و انکشاف پروژه ها به منظور اداره چنین ضرورت ها، آموزش داده است، بلکه همچنان باعث گردید تا نقش موسسه خویش را در قسمت انکشاف و کمک جامعه مؤثر تر یابم».

در محفل اختتامیه برنامه، یک اشتراک کننده از دیگر اشتراک کننده ها تقاضا نمود تا پیام شان را با یک آواز به شکل دسته جمعی چنین بیان دارند(ما تغیر میاوریم).



